كل مُسْكِرٍ خَمْرٌ، وكل مُسْكِرٍ حرام، ومن شرِب الخمر في الدنيا فمات وهو يُدْمِنُهَا لَمْ يَتُبْ، لَمْ يَشْرَبْهَا في الآخرة». "هر نشه كوونكى شى شراب دي او هر نشه كوونكى شى حرام دى، څوک چې په دنيا کې شراب وڅښي او معتاد پرې مړ شي او توبه ونه کړي، نو په آخرت کې به شراب و نه څښي

له ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دى وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «كل مُسْكِرٍ خَمْرٌ، وكل مُسْكِرٍ حرام، ومن شرِب الخمر في الدنيا فمات وهو يُدْمِنُهَا لَمْ يَتُبْ، لَمْ يَشْرَبْهَا في الآخرة». "هر نشه كوونكى شى شراب دي او هر نشه كوونكى شى حرام دى، څوک چې په دنيا کې شراب وڅښي او معتاد پرې مړ شي او توبه ونه کړي، نو په آخرت کې به شراب و نه څښي".

[صحيح دى] [مسلم روايت کړى او البخاري ترې اخري جمله روايت کړى دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم څرګنده کړې ده چې هر هغه څه چې عقل غيبوي او له منځه يې وړي نو هغه نشه كوونكي شراب دي، برابره خبره ده كه هغه څښاک وي يا خوراک، تنفس وي او يا بل څه، او دا چې هر هغه څه چې انسان نشه كوي او عقل يې له منځه وړي نو الله تعالى هغه حرام کړى او منع يې ترې فرمايلې ده، هغه كه لږ وي او يا ډېر. او دا چې چا هر ډول نشه يي توكي وڅښل او په دوامداره توګه يې څښل او تر مرګه يې ترې توبه ونه وېسته نو هغه د الله تعالى د عذاب مستحق دى چې په جنت كې به يې له شرابو محروم کړي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/58259